# د ایران کرغیړن رژیم په وژنځای کې د آزادۍغوښتونکو بندیانو څخه ملاتړ کوو!

د ایران په فاشیستي رژیم کې د حسن روحاني تر مشرۍ لاندې د «منځدریځه» سرې‌وژونکو په رامنځ ته کیدو سره، د آزادۍغوښتونکو او روڼآندو نیول، ربړول او په دارځړول په بې‌ساري توګه زیات شو. د «ولایت فقیه» وینه‌څښکونکې دستګاه چې د نابودۍ په حالت کې هرې خواته لاس او پښې وهي د بې‌پناه افغان کډوالو د لوټ او اعدام ترڅنګ، هره ورځ د ایران شریف ولس په حق کې هم زړه‌بوږنونکې جنایتونه ترسره کوي او هر مخالف غږ د هیټلر په څیر ځپي.

رضا شهابي، یو مبارز زیارکښ دی چې د خپلو صنفي کړنو په خاطر، له ۴ کالو څخه راپدیخوا د آخوندي رژیم په بند کې د جسمي او روحي ربړونو لاندې ژوند کوي. هغه په ډیره میړانه له ۵۰ ورځو راپدیخوا د ډوډۍ په نه خوړلو اعتصاب لاس پورې کړی او په ډیر بد حالت کې اوسیږي. د خامنه‌ای–روحاني کرغیړن رژی‌م د هغه انساني غوښتنو ته هیڅ پام نه کوي.

د «ولایت فقیه» ویجاړونکی رژیم په دې آند دی چې د ایران آزدۍغوښتونکو او بنسټپالۍ ضد بچیانو په ربړونه او وینه‌بهیدو سره کولای شي هغوی وډار او آرام کړي ترڅو له خپلو کړنو لاس واخلي. ولې د اسلامي جمهوري د ځناورتوب تاریخ ددې شاهد دی چې نه د رضا شاه مستبد رژیم وکولای شو، او نه به دا د منځنیو پیړیو رژیم وکولای شي چې د ایران په زړګونه نارینه او ښځینه پوه او اتلو په ربړونه د آزادۍغوښتنې چیغه د خسرو ګلسرخي او سعید سلطانپور او ندا او فرزاد کمانګر او شیرین علم‌هولي په څمکه کې آرامه کړي.

زمونږ د خلکو خپلواکۍ، آزادۍ او دموکراسۍ غورځنګ پرته له دې چې د ایران ځناور رژیم پر وړاندې چې له څو کلونو راپدې‌خوا د ایران غمځپلي آسمان د روښانه ستورو په وینو کې مستې کوي، په قاطع توګه ودریږي، بیکاره، سست او ضربه لیدونکې دی. دغه د ناپوهۍ او ظلم دستګاه چې په سیمه کې د سرطان په دانه بدله شوې، زمونږ د خلکو د ویجاړۍ او بربادۍ سبب هم ده چې له څلورو لسیزو راپدیخوا زمونږ د ملت ځناورو، ناپوهه او ارتجاعي دښمنانو ته وسله ورکوي او له هغوی څخه ملاتړ کوي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د رضا شهابي، نسرین ستوده، مجید توکلي او د هغه هیواد په سلګونه نورو سیاسي بندیانو مقاومت ستایي او په بیړه د آخندي وژنځای څخه د هغوي خوشې کیدل غواړي. مونږ د زړه له کومې د ایران له آزادۍغوښتونکي غورځنګ او آزدایغوښتونکو بندیانو څخه ملاتړ اعلانو او د هغوي مقاومت او نه تسلیمیدل زمونږ د مبارزې هیله ده او د ظلم، خوارۍ او روزواکۍ په دې نړۍ کې د انساني غرور او شرف نښه ده.

**درود پر رضا شهابي او د ایران سرې‌وژونکي رژیم په بند کې پر ټولو مبارزانو!**

**ژوندۍ او روښانه دې وي د ایران او افغانستان آزادۍغوښتونکې جګړه!**

د افغانستان د همبستګۍ ګوند

۱۳۹۳ کال د زمرې ۲ نیټه (۲۰۱۴ کال د جولای ۲۴ نیټه)

+93 700 23 15 90 | info@hambastagi.org | www.hambastagi.org | fb.com/hambastagi